بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

سر یال نمبر: 515

دملت غږ

یووالی، ایمان، انضباط

# خیبر کښې دخوارجو خلاف دامنیتي ځواکونو په لویه پیمانه عملیاتو کښې ګڼ شمیر ترهګر مړه او نیول شوي دي

د خیبر ضلعې په لرې پرتو او سختو غرنیو سیمو کې د خوارجو د شتون په اړه د تایید شویو راپورونو وروسته د امنیتي ځواکونو لخوا پراخ عملیات روان دي، چې په ترڅ کې یې تر اوسه ګڼ ترهګر وژل شوي او ژوندي نیول شوي دي۔

د تفصیلاتو له مخې خوارجو منصوبه درلوده چې د خیبر ضلعې سختو او ګڼو ځنګلونو سیمو ته ننوځي تر څو د خیبر سره نږدې په ګڼ میشته سیمو کې ترهګریز فعالیتونه ترسره کړي. امنیتي ځواکونو په خیبر کې په پراخه کچه عملیات پیل کړي دي، چې د خوارجو د ناپاکو ارادو په ګوته کولو سره یې په وخت عملیات پیل کړي دي۔.




د دغو عملیاتو په نتیجه کې خوارجو له سختو زیانونو سره مخامخ دي او تراوسه پورې ګڼ شمېر تروریستان وژل شوي او مړي یې ترلاسه شوي دي او په لسګونو تنه خوارج هم نیول شوي دي۔.

دا اسلام او ولس ضد خوارج ته به نه د پټېدو موقع ورکول کېږي او نه به د تېښتې لاره ومومي، په داسې حال کې چې د دوی په شاوخوا کې محاصره سخته شوې او د سیمې د سولې د ګډوډولو ټولې هڅې به شنډ شي . انشاءاللّٰه

مورخه: ۲۵ مارچ ۲۰۲۴ء

www.publicvoice.pk